د امیرِ اهلِ سُنَّت دامت برکاتہم العالیہ د کتاب
''فیضانِ سُنَّت'' یو قسط

# پۀ طعام کښې د برکت حاصلولو طریقې

(پښتو)




د طعام په کومه حصه کښې بَرَکت دے؟ 06
لوښے د چا د پاره د بخښنې دُعا کوي؟ 08
د پښتورګي (ګردې) کانړے خنګه اووتو؟ 10
د تود طعام نُقصانونه 12



شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال
محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوِي دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ؕ

# پهٔ طعام کښې د برکت حاصلولو طريقے

دا مضمون د ”فيضانِ سُنّت“ صفحه 267 تا 285 نه اخستے شوے دے.

دعائے عطار: يا الله پاکه! څوک چې دا رِساله ”پهٔ طعام کښې د برکت حاصلولو طريقے“ ولولي يا يې واورِي، هغهٔ ته د طعام د احترام کولو او هميشه د حلال خوراک توفيق ورکړې، او سره د مور و پلار يې بے حسابه ووبخښې. اٰمين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شريف فضيلت

د آخري نبي ﷺ فرمان دے: مسلمان چې تر څو پورې پهٔ ما درود شريف لوَلي، فرښتې پهٔ هغهٔ رحمتونه ليږي، اوس د بنده خوښه ده چې کم لولي او کهٔ زيات.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د لويدلي ډوډۍ خوړلو فضِيلت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د الله پاک رَحمت ډير لوئي دے کله کله عمل په ظاهره ډير لږ وي خو د هغې فضيلت ډير زيات وي. څنګه چې حضرتِ سَيِّدُنا عَبدُالله بن اُمِّ حَرام رضي الله عنه فرمائي چې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَک دے: ”د ډوډۍ اِحتِرام کوئ ځکه چې هغه د آسمان او زمکې د بَرَکتونو نه ده. څوک چې د دسترخوان نه لويدلي ډوډۍ وخوري دهغه بخښنه به وشي.“

(الجامِعُ الصَّغِير ص٨٨ حديث ١٤٢٦)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! کاش! چې مونږه په دې باره کښې شرم نه کوو او په دسترخوان باندې لويدلي د ډوډۍ ټُکرے او د ورِيژو دانې وغيره راپورته کړو [او وئې خورو] او

د مغفِرت حقدار جوړ شو.“

طالبِ مغفرت ہوں یا اللہ　　بخش دے بہرِ مصطفٰے یارب!
يا الله د مغفِرت يم طلبګار　　وبخښه مې په خاطر د مُصطفٰى يا رب

## د ډوډۍ د ټکړے حِکايت

**يو ځل حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن عُمر** رضی اللہ عنہما په زمکه باندې پرَته د ډوډۍ ټُکړه وليدله نو غُلام ته ئې وفرمائيل: ”دا صفا کړه او وئې ساته، چې کله ئې ماښام د روژه ماتي په وخت کښې د غُلام نه هغه ټُکړه وغوښتله نو هغه عرض وکړو: هغه خو ما خوړلې ده.“ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمر رضی اللہ عنہما وفرمائيل: ځه ته آزاد ئې ځکه چې ما د تاجدارِ رِسالت صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم نه اوريدلي دي: ”**خوک چې د ډوډۍ لويدلې ټکړه راپورته کړي او وئې خوري نو د هغه خيټې ته رسيدو نه مخکښې الله پاک د هغه بخښنه وکړي.**“ اوس چې څوک د مغفِرت حقدار شو، زه هغه څنګه غُلام وساتم؟ (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۳٤۸ حديث٥۱٤)

## دِيني سوچ

سُبْحٰنَ الله! زمونږه بُزرګانو به هم څومره ښکلے **دِيني سوچ** لرلو چې د لويدلې ډوډۍ د خوړلو په وجه غُلام د بخښني حقدار شو نو آقا يعني مالِک هم د خپلې غُلامۍ نه آزاد کړو. يا **الله** پاکه! په خاطرد خوږ مُصطفٰى صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم مونږ ته هم مَدَني سوچ او سُنَّتو سره حقيقي محبّت راعطا کړې او مونږ ته هم د دې سعادت حاصلولو توفِيق راکړې چې کله په زمکه د ډوډۍ ټُکړه وه وِينو نو په ادب ئې راپورته کړو، صفا ئې کړو، ښکل ئې کړو او وئې خورو. يا **الله** پاک په سُنّتو باندې د عمل کولو په باره کښې د خلقو نه زمونږه شرميدل ختم کړې او زمونږه بخښنه وفرمائې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم

سُنّتوں سے مجھے محبّت دے　　میرے مرشد کا واسطہ یارب!

د سُنّتو سره راكړې محبَّت زما د پير په واسطه يا **رب**

## دسترخوان زيات كړه

د **بُزرګانو** معمول دا دے چې د طعام خوړلو نه پس داسې نه وائي چې ”دسترخوان اوچت كړه“ بلكه وائي، ”دسترخوان زيات كړه“ يا طعام زيات كړه.“ په داسې وئيلو كښې د دسترخوان د زياتيدو او د طعام د زياتيدو او د بَرَكت او فراخئ دُعا وي. [يعني روزي دې ډيره شه]

(مُلَخَّصاً سُنِّي بهشتی زيور ص٥٦٦)

## چې كله مې رِساله ”ويروونكے اوبښ“ اولوستله

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دواړو جهانو بَرَكتونه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم **دعوتِ اسلامي** ديني ماحول سره هر دم خپل تړون مضبوط ساتئ. د دعوتِ اسلامي د بَرَكتونو به څه وائې! د كولكاته (هِند) د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه عرض كووم، هغوئي وائي چې زه په سُنَّتو د عمل كولو ژوند نه ډير لرې يو فيشني ځلمے ووم، يوه شپه د كور طرف ته راروان ووم نو په لاره مې د عِمامو [يعني پټكو] سپرلي وليدل، چې نزدې ورغلم نو معلومه شوه چې د ممبئ نه د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رسول **مَدَني قافِلَه** راغلې ده او د هغوئي [د كوششونو] په سبب دلته د سُنّتو ډكه اِجتِماع كيږي. زما په زړه كښې راغله چې دوئي ډير اوږد سفر كړے دے او زمونږه ښار كولكاته ته راغلي دي، د دوئي خبره اوريدل پكار دي لِهٰذا زه په اِجتِماع كښې شريک شوم. د اجتِماع په ختميدو هغوئي د **مَكتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوې رسالے تقسيمول شروع كړل، زما خوش قِسمتي وه چې يوه رِساله ما ته هم په لاس راغله، په هغې ليكلي شوي وو ***ڀيانک اُونٹ*** يعني [ويروونكے اوښ]. زه كور ته راغلم او دا سوچ مې وكړو چې صبا به ئې لوَلم او د اوده كيدو تياري مې شروع كړه. د اوده كيدو نه مخكښې مې هسې د رِسالے ***ڀيانک اُونٹ*** پاڼه واړوله نو زما

نظر په دې لِيک پريوتو. ''شيطان که هر څومره ناراستي درولي خو تاسو دا رِساله ضرور پوره ولولئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيم ستاسو په زړه کښېي به مَدَني اِنقلاب راپورته شي.'' دې جُملے زما زبردسته رهنُمائي وکړه او ما سوچ وکړو چې واقعي شيطان به کله ما دې رِسالے لوستلو ته پرېږدي، صبا چا ليدلے دے، په نيک کار کښېي سستي کول نه دي پکار او بس دا اوس په دې ساعت لوستل پکار دي، دا سوچ مې چې وکړو او لوستل مې شروع کړل نو په هٔغه پاک پروردګار مې دې قَسم وي د چا په در کښېي به چې د قيامت په ورځ پيش کيدل او حساب ورکول وي! **چې کله ما رِساله *بهيانک اُونٹ* لوستله** او په هغې کښېي مې د کفَّارو له طرفه زمونږ په خوږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د شوو ظلمونو د غم نه ډک بيان ولوستو نو زما په سترګو کښېي اوښکې راغلې، خوب مې وتښتيدو او د ډيره وخته پورې مې ژړل. په شپه شپه کښېي مې دا اِراده وکړه چې سحر به سمدستي په مَدَني قافِله کښېي سفر کووم.

چې سحر مې د مور و پلار په خِدمت کښېي عرض وکړو نو هغوئي په خوشحالئ اِجازت راکړو او زه د درې ورځو د پاره د عاشِقانِ رسول سره د مَدَني قافِلے مُسافِر جوړ شوم، مَدَني قافِلے والؤ زما بد ژوند په ښه ژوند کښېي بدل کړو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! زه بېرته نمونځ ګُزاره جوړ شوے راغلم، د عمامے تاج مې په سر کړو، د سُنَّتو مطابق لِباس اغوستل مې شروع کړو. زما په بدليدو باندې زما مور ډيره خوشحاله شوه او ډيرې دُعاګاني ئې راته وکړې، خپل خپلوان را نه ټول خوشحاله شو. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! نن صبا د **دعوتِ اسلامي** د يو تحصِيل مشاورت د خادِم (يعني نِګران) په حيثيت د خپل توفِيق مطابق د سُنَّتو خورولو په خِدمت کښېي مصروف يم.

عاشِقانِ رسول لائے جنّت کے پھول　　آؤ لینے چلیں قافِلے میں چلو
بھاگتے ہیں کہاں آ بھی جائیں یہاں　　پائیں گے جنّتیں قافِلے میں چلو

عـاشِـقانِ رسـول، راوړو ګل د جنّت
ځئ چې مونږ ئې راوړو قافِلو کښېي لاړ شئ

څه کوئ اخوا دیخوا، راځئ راشئ هُم دیخوا

ځئ چې جنَّت ګټو، قافِلو کښې لاړ شئ

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# رِسالے تقسیموئ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د دعوتِ اسلامي ديني ماحول یو بیلمَانځه، فیشني ځلمے د کوم ځائے نه کوم ځائے ته اورسولو! دا هُم معلومه شوه چې د مَکتَبَةُالْمَدِیْنَه چاپ شوې د سُنّتو ډکې رِسالے د تقسیمولو ډیرې فائِدے دي، هغه فیشني ځلمي ''بھیانک اُونٹ'' [ویرووونکے اوښ] نومې رِساله اولوستله نو بے تابه شو او سمدستي د مَدَني قافِلے مُسافِر جوړ شو او عمامه ئې په سر کړه. لِهٰذا د خپلو عزیزانو د اِیصالِ ثواب د پاره، په عُرسونو، اِجتِماعاتو، د غم ښادئ په دعوتونو کښې، په جنازو او جَنجُونو کښې او د مِیلاد شریف په جُلوسونو کښې د سُنّتو ډکې رِسالے او د قِسماقِسم مَدَني ګلونو مختلفي پرچې د مَکتَبَةُالْمَدِیْنَه نه په هدیه حاصلې کړئ او ښه ډیر ئې تقسیم کړئ، د واده د کارډونو سره هم یوه یوه رِساله ترړئ. که ستاسو ورکړې شوې رِساله یا پرچئ چا ولوستله او هغه د نمونځونو او سُنّتو پابند جوړ شو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم ستاسو به هم په دوارو جهانو کښې بیړئ پورېوځي.

ہر مہینے جو کوئی بارہ رسالے بانٹ دے

ان شاءَاللہ دو جہاں میں اُس کا بیڑا پار ہے

د شعر ترجمه: چې څوک هره میاشت دولس رِسالے تقسِیموي، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم په دوارو جهانو کښې به د هغه بیړئ پورېوځي.

# ګوتې خِتل سُنَّت دي

د حضرتِ سَیِّدُنا عامِر بِن رَبِیعه رضی اللہ عنہ نه رِوایت دے چې نبئِ پاک، صاحِبِ لولاک صلی اللہ علیہ وسلم به په

درې ګوتو طعام خوړلو او چې کله به ئې بس کړلو نو هغه [ګوتې مبارکې] به ئې څټلې.
(مجمع الزوائِد ج٥ ص٢٣ حديث ٧٩٢٣)

## معلومه نه ده چې د طعام په کومه حِصّه کښې بَرَکت دے

**حضرتِ سيِّدُنا جابِر** رضی اللہ عنہ فرمائي: تاجدارِ مدينه صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د ګوتو او لوښي څټلو حُکم وکړو او اوئې فرمائيل: تاسو ته معلومه نه ده چې د طعام په کومه حِصّه کښې بَرَکت دے.“
(صحيح مُسلِم ص١١٢٢، الحديث ٢٠٢٣)

## د طعام د بَرَکتونو حاصلولو طريقه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! افسوس! په کروړونو افسوس! نن صبا چې د مسلمانانو د طعام خوړلوطريقے ته وګورئ نو داسې معلوميږي چې ډير کم خوش نصيبه به داسې وي چې هغوئي به د سُنَّتو مطابق طعام خوري اود دې بَرَکتونه به حاصلوي.په بيان کړے شوي حديث مبارک کښې فرمائيلے شوي دي: ”تاسو ته نه ده معلومه چې د طعام په کومه حِصّه کښې بَرَکت دے.“ لِهٰذا! مونږ ته کوشش کول پکار دي چې د طعام يوه ذرّه هم ضائِع نه شي،هډوکے وغيره داسې چوپل او څټل پکار دي چې په هغې باندې د غوښې او د خوراک د څيزونو هيڅ قِسمه ذرّه پاتې نه شي، که ضرورت وي نو هډوکے په لوښي کښې وڅنډئ، چې که په هغې کښې [د ورېژو وغيره] څه دانه وغيره نخښتې وي چې هغه را ووځي او ووخوړے شي،که کيدے شي نو په طعام کښې پخې شوې ګرمې مَصَالے مَثَلًا لاچي، تور مرَچ، لَونګ، دارچيني، وغيره هم اوخورئ، اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡکَرِيم فائِده به کيږي. که نه ئې شئ خوړلے نو هم څه ګناه نشته. د برياني وغيره نه ثابَت شنه مرچکي د غوززولو په ځائے د طعام شروع کولو نه مخکښې راټول کړئ او اوئې ساتئ او آئِنده ئې ميده کړئ او په بل څه اِنګولي کښې ئې واچوئ. اکثر خلق د مهي پوستکي هم غورزوي، دا هم خوړل پکار دي. الغَرَض د طعام په ټولو اجزاء [يعني هر څيز] باندې غور کول پکار دي او د هغې هر بے ضرره څيز خوړل پکار دي، او ګوتې او لوښے داسې څټل

پکار دي چې په هغې پورې د طعام هيڅ اثر پاتې نه شي.

## د ګوتو څټلو ترتيب

**حضرتِ** سَيِّدُنا کعب بِن عُجره رضی اللہ عنہ فرمائي چې ما وليدلو چې د مدينے تاجدار ﷺ غټه ګوته، د شهادت ګوته او د مينځ ګوته [يعني درې واړه ګوتې] را يو ځائے کړې وې او په درې ګوتو ئې خوراک کولو. بيا ما وليدل چې د وچولو نه مخکښې ئې هغه وڅټلې، د ټولو نه مخکښې ئې د مينځ بيا د شهادت او بيا غټه ګوته مُبارکه وڅټله. (مجمع الزوائِد ج٥ ص٢٩ حديث٧٩٤١)

## ګوتې درې درې ځله څټل سُنَّت دي

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ګوتې درې درې ځله څټل سُنَّت دي، که د درې ځله څټلو باوجود په ګوتو پورې د خوراک ذرّے نخښتې وې نو ډيرې پيرې ئې وڅټئ تر دې چې د طعام اثر پرې پاتې نه شي. په شمائِلِ تِرمِذي کښې دي، "د دواړو جهانو سردار صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم به (د طعام نه پس) خپلې ګوتې مبارکې درې درې ځله څټلې." (شمائِلِ تِرمِذی ص٦١ حديث١٣٨)

## لوښے څټل سُنَّت دي

د **سرکارِ مدينه** صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د بَرَکت نه ډک فرمان دے: "څوک چې رکيبئ [يعني لوښے] او خپلې ګوتې وڅټي، **الله** پاک هغه په دُنيا او آخِرت کښې آسوده (يعني موړ) ساتي."
(طبرانی کبِیر ج١٨ ص٢٦١ حديث٦٥٣)

## په آخِره کښې بَرَکت زيات وي

**سرکارِ نامدار** صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائي: "د طعام لوښے دې نه اوچتولے شي تر دې چې خوړلو والا هغه وڅټي يا ئې په بل چا وڅټي ځکه چې د طعام په آخِره کښې بَرَکت (زيات) وي."
(کَنزُ العُمّال ج١٥ ص١١١)

## لوښے د بخښنې دُعا کوي

حضرتِ سَيِّدُنا نُبَيشه رضی الله عنه فرمائي چې مَکي مَدَني سردار صَلَّی الله علیهِ واٰلهٖ وسلَّم ارشاد فرمائي: ”څوک چې طعام [خوړلو] نه پس لوښے وڅټي هغه لوښے به د هغه د پاره اِستِغفار [يعني د بخښنې دُعا] کوي.“ (اِبنِ ماجه ج٤ ص١٤ حديث٣٢٧١) په يو رِوايت کښې دا هُم دي چې هغه لوښے وائي ”اے الله پاکه! دے د جَهَنَّم نه آزاد کړې څنګه چې ده زه د شيطان نه بچ کړم.“

(کَنزُ العُمّال ج١٥ ص١١١ حديث٤٠٨٢٢)

حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُاللهِ علیه فرمائي: ککړ لوښے چې پاک نه کړے شي او دغسې پروت وي نو شيطان ئې څټي.“ (مِراٰة ج٦ ص٥٢)

## د لوښي څټلو حِکمتونه

حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُاللهِ علیه فرمائي: ”په لوښي څټلو کښې د طعام ادب دے، دا طعام د بربادئ نه بچ کول دي، لوښي که دغسې ککړ پرېښودے شي نو مچان پرې بنيرې، په لوښي پورې نخښتي د خوراک خيزونه مَعَاذَالله ګنده نالو او ګنده ډيرانونو ته غورزولے کيږي، او دا د طعام سخته بے ادبي ده. که يو وخت هر تن يو څو دانې ضائِع کوي نو هره ورځ به په منونو خوراک بربادېږي. غَرَض دا چې د لوښي په څټلو کښې ډير حِکمتونه دي.“ (مُلَخَّص از مِراٰة ج٦ ص٣٨)

## اِيمان تازه کوونکے اِرشاد

سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ علیهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمائي: ”پياله [يعني د طعام لوښے] څټل ما ته د دې نه زيات خوښ دي چې ډکه پياله طعام صَدَقه کړم.“ (يعني ولې چې په څټلو کښې عاجِزي ده لِهٰذا د دې ثواب د صَدَقه کولو د ثواب نه زيات دے) (کَنزُ العُمّال ج١٥ ص١١١ حديث٤٠٨٢١)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللهُ علیهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمائيلي دي: ”څوک چې رکيبۍ

[يعني لوښے] او خپلې ګوتې څټي، الله پاک دې په دُنيا او آخِرت کښې د هغه خيټه ډکه کړي.'' (يعني په دُنيا کښې دې مُحتاجۍ او لوَږې نه بچ شي او د قيامت د لوَږې نه دې محفوظه شي، د دوزخ نه دې پناه ورکړے شي څکه چې په دوزِخ کښې به هيڅ څوک هم نه مړيږي) (طبراني کبير ج١٨ ص٢٦١ حديث٦٥٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د يو غُلام آزادولو ثواب

حُجَّةُ الْاِسلام اِمام محمّد غزالي رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي: ''څوک چې د طعام لوښے وڅټي او بيا ئې وه وِينځي او د هغې اوبه وڅښي هغه ته د يو غُلام آزادولو ثواب حاصليږي.'' (احياءُ عُلومِ الدِّين ج٢ ص٧)

## د وِينځلو او څښلو طريقه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! صِرف د طعام لوښے څټل کافي نه دي، چې کله هم په پيالۍ يا ګِلاس کښې چائے، شوده، شوملې، د ميوو رس [يعني جُوس] وغيره استعمال کړئ هغه هم څټئ، وينځئ او څښئ. هم دغسې د اِنګولې [يعني ترکارۍ] يا د بل څه خوراک د پخلي کړېچے، ديګچے يا پتيله وغيره هم که تشه شوې وي يا په هغې کښې معمولي غونډې خوراک پاتې وي نو هغه او د راچولو څمڅۍ هم که کيدے شي نو پاکوئ عام طور په ديګونو، پتيلو او غټو لوښو کښې څه نا څه خوراک پاتې شي او هغه ضائِع کړے شي. داسې نه دي کول پکار، چې څومره کيدے شي د هغې نه ټول خوراک راوِيستل پکار دي، يوه ذرّه هم مه ضائِع کوئ. دا هم کيدے شي چې هغه [په لړو اوبو] وه وِينځلے شي او هغه اوبه په فرِج کښې وساتلے شي او بيا په پخلي کښې استعمال کړے شي، خو دا هر څه د الله پاک په توفِيق کيدے شي. دا هُم ياد ساتئ چې د لوښي او ګِلاس وغيره په څټلو او وِينځلو کښې دا احتياط ضروري دے چې د هغې نه د خوراک اَجزا [يعني ذرّے] ختمې شي. که په لوښي پورې د خوراک ذرّے نخښتې وي نو دې ته وِينځل نه وائي.

تجرِبه دا ده چې په يو ځل وِينځلو او ښبلو عام طور لوښے نه پاکيږي، لِهٰذا که دوه يا درې ځله پکښې اوبه واچولے شي او د پاسنۍ غاړې سره هر طرف په ګوته صحيح راپاک کړے شي او وښبلے شي نو بهتره ده.

## د وِينځلو او ښبلو نه پس پاتې شوي ښاښکي

د وِينځلو او ښبلو نه پس هم په رکيبۍ يا پيالۍ وغيره کښې يو څو ښاښکي پاتې شي لِهٰذا په ګوته ئې راجمع کړئ او وئې ښبئ. اوبه يا شربت چې وښبې نو په ظاهِره خو ګِلاس يا بوتل تش شي خو د هغې باوجود چې ورته لږ ساعت پس اوګورئ نو د هغې د ديوالونو نه به يو څو ښاښکي راکوز شوي وي او په بيخ کښې به جمع شوي وي، هغه هم ښبئ ځکه چې په حديثِ پاک کښې دي "تاسو ته نه ده معلومه چې د خوراک په کومه حِصّه کښې بَرَکت دے."

کاش! چې مونږ ته داسې وِينځل او ښبل رانصيب شي چې دا نه معلوميږي چې په دې کښې اوس چا څه خوړلي دي يا ئې پکښې شربت وغيره ښبلے دے!

## د لوښي وِينځلو او ښبلو طِبّي فائِدے

اَلْحَمْدُلِلّٰه! يو سُنَّت هم د حِکمت نه خالي نه دے. جديد سائِنس هم اوس دا خبره منې چې حَياتيات يعني وِټامِنز خصوصاً "وِټامِن بي کمپليکس" د طعام په پاسنۍ حِصّه کښې کم او د لوښي په بيخ کښې زيات وي او په خوراک کښې موجود مَعدَني نَمکيات صرف د لوښي په بيخ کښې وي او هغه د لوښي ښټلو يا د وِينځلو په ذريعه ښبلو سره د ډيرو مَرَضونو د مخ نِيوي باعِث جوړيږي.

## د پښتورګي [ګُردې] کاڼے ښکه اووتو

د **دعوتِ اسلامي** مَدَني قافِلو کښې د سفر په بَرَکت بيشميره مسئَلے حل کيږي او د ډيرو

مَرَضونو عِلاج کيږي، چنانچه د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دے چې زمونږه د دولسو ورځو **مَدَني قافِله** چې بيرته راتله نو د بلوچستان په يو سټيشن کوزه شوه، مَدَني قافِلے والا په **اِنفِرادي کوشش** کښې مشغول شو، په دې دوران کښې مو د هغه ځائے يو اسلامي ورور سره ملاقات وشو، هغوئي د مَدَني قافلو د بَرَکتونو حاصلولو خپله ذاتي تجرِبه بيانول شروع کړه او وئيل ئې: زه د **پښتورګي** [يعني ګُردې] **د کاڼي** په وجه په سخت تکليف کښې ووم، ډاکټر را ته د آپريشن وئيلي وو، په دې دوران کښې يو اسلامي ورور په ما باندې اِنفرادي **کوشش** وکړو او دلاسه ئې راکړه چې ويريږه مه او په مَدَني قافِله کښې سفر وکړه، په سفر کښې دُعا قبليږي. **الله** پاک به ستا مسئله حل کړي. د هغوئي د **محبَّت** نه ډک انداز مې په زړه ډير اثر وکړو او زه **د درې ورځو د مَدَني قافِلے** مسافر جوړ شوم. اَلْحَمْدُلِلّٰه! په درې ورځو کښې دننه زما د ګُردې کاڼے اووتو. ما چې کله ډاکټر ته اووئيل نو هغه حيران پاتې شو ځکه چې شايد زما کاڼے د داسې قِسم وو چې د آپريشن نه بغير ډاکټرانو سره د هغې عِلاج نه وو.

ګرچه بيمارياں، تنگ کريں پتھرياں | پاؤ گے صحّتيں قافِلے ميں چلو
گھر ميں ناچاقياں، ہوں يا تنگدستياں | پائيں گے بَرَکتيں قافِلے ميں چلو

که په تن مو بيماري وي يا ګُرده کښې مو پترې وي
جوړېږبه مو شي صِحتونه قافلو کښې لاړ شئ
که په کور کښې وي جنګ يا مو لاس وي ډير تنګ
کړيئ تر لاس به بَرَکتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## تود طعام خوړل منع دي

**حضرتِ** سَيِّدُنا جابِر رضی اللہ عنہ فرمائي چې نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائيلي دي: "تود

طعام سړوَئ ځکه چې په تود طعام کښې بَرَکت نه وي. (مُستَدرِک لِلحَاکم ج٤ ص١٣٢ حديث٧١٢٥)

## طعام خومره يخ کړے شي

د **حضرتِ** سَيِّدَتُنَا جُوَيرِيه رضی اللہ عنہا نه رِوايت دے چې نبئ اکرم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم به د طعام بړاس ختميدو نه مخکښې هغه خوړل نه خوښول. (مَجمَعُ الزوائِد ج٥ ص١٣ حديث٧٨٨٣)

## د تود طعام نُقصانونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! طعام سوړ خوړل پکار دے خو دومره سوړ نه چې بالکل يخ او بے مزې شي بلکه دومره سړول پکار دي چې بَړاس ختل تري بند شي. **حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي** رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ''د طعام لږ غوندې سړيدل او په پوکو نه سړول د بَرَکت باعِث دي، او داسې طعام خوړلو کښې تکليف هم نه وي.'' (مِراٰۃ ج٦ ص٥٢) ډير تود طعام يا ډير تود چائے يا توده کافي وغيره څښلو سره د خُلې او مرئ د پڅيدو او د معدے د پړسوب خطره وي او فوراً د دې د پاسه اوبه څښلو سره ورو او معدے ته نقصان رسي.

## په طعام کښې مچ

که په **طعام** يا د څښلو په يو څيز کښې مچ پريوځي نو هغه خوراک څښاک غورزول اِسراف او ګُناه ده. مچ له غُوپه ورکړئ او ترې وئې باسئ او هُغه خوراک څښاک بے خَطَره استعمال کړئ. چنانچه د طبيبانو طبيب، د **الله** پاک خوږ حبيب صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم فرمائي: ''چې کله په طعام کښې مچ پريوځي نو هغه له غُوپه ورکړئ (او ترې وئې باسئ) ځکه چې د دې په يو وزر کښې شِفا ده او په بل کښې بيماري ده، په خوراک کښې د غورزيدو په وخت مخکښې بيمارئ والا وزر ور اچوي لِهٰذا پوره [مچ] ته غُوپه ورکړئ.'' (اَبُوداوٗد شريف ج٣ ص٥١١ حديث٣٨٤٤)

## د سائِنس اِعتِراف

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارک نظر نه قُربان! زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څه ليدلي وو، اوس سائِنس هم د هغې په منلو مجبوره دے، چنانچه سائِنسدانانو داخبره منلې ده چې د مچ په يو وزر کښې خطرناک وائِرس (ګنده جراثِيم او په بل کښې دافِع وائِرس (يعني د ګنده جراثِيمو د اثر ختملو) جراثِيم وي. مچ چې کله په يو خوراک يا د څښلو په څيز يعني چائے، شودو يا اوبو وغيره کښې پريوځي نو وائِرس والا وزر مخکښې لګوي او د هغې نه په خوراک څښاک کښې وائِرس خواره شي او د دې خوړلو والا پهٔ بيمارئ کښې اخته کيدے شي بيا که مچ غُوپه کړے شي نو د بل وزر دافِع وائِرس جراثِيم هغه خطرناک جراثِيم مړه کړي او خوراک بے ضرره شي.

## غوښه په شُوکولو خورئ

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا رِوايت فرمائي چې د نبئِ رَحمت صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِيشان دے:"غوښه (خوړلو وخت کښې) په چاړه مه کټ کوئ ځکه چې دا د عَجَمِيانو طريقه ده، او غوښه په غاښونو شوکوئ او خورئ ځکه چې دا [يعني داسې کول] زيات خوندور او ښه لګي." (اَبُوداؤد شريف ج۳ ص۴۹۰ حديث۳۷۷۸) که د غوښې غټه ټُکړه مَثَلًا په سکرو پوخ شوے وروِن وغيره وي نو بيا د ضرورت مطابق په چاړه باندې کټ کولو کښې باک نشته.

## د چرګ د پتون تور تارونه لرې کړئ

د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تحقِيق مطابق په ذَبِيحه [يعني په ذبح شوي څيزونو] کښې څه څيزونو داسې دي چې د هغې خوړل حرام يا منع، مکرُوه دي. په هم دې کښې يو حرام مَغز دے چې د سپين مزي په شان وي او هغه د دماغو نه شروع کيږي او ښکته په څټ کښې راغلے وي او د

ملا د تِير د آخِرې پورې وي او د خټ [يعني د ورميږ] دواړو طرفو ته د زيړ رنګ دوه مضبوطې **پټې** د اُوګو پورې راغلې وي، دا ډيرې کلکې وي په آسانۍ نه ېخيږي، دا پټې او **غُدود** [يعني غوټې، ستغونه] خوړل هم حرام دي. د حلال شوي ښاروي وغيره په غوښو کښې چې کومه وِينه پاتې شي، هغه اګر چې پاکه وي [يعني جامے وغيره پرې نه پيلمانځه کيږي] خو دغه **وِينه** خوړل حرام دي. لِهٰذا د غوښې هٰغه حِصّے چې په هغې کښې عام طور وِينه پاتې شي هغه په صحيح طريقه ګورئ. مَثَلًا د چرګ په ېخه شوې غوښه کښې د ورميږ [يعني خټ]، وزَرو او ښپو او ورنونو نه **تور تارونه** لرې کړئ ځکه چې دا د وِينې رګونه وي، وِينه چې ېخه شي نو توره شي. د چرګ د ورميږ پټې او حرام مَغز هم مه خورئ.

## دولس کاله مخکښې ورک شوے ورور پيدا شو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره د **دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو** کښې **عاشِقانِ رسول** سره سفر جاري ساتئ، عِلمِ دِين حاصلولو سره سره به مو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم د دُنيا مسائِل هم حل کيږي ځنګه چې د دعوتِ اسلامي يوه **مَدَني قافِله** هري پور (خيبر پښتونخواه، پاکستان) کښې د سُنَّتو ډک سفر باندې وه، په هغې کښې يو اسلامي ورور وه وئيل چې زما مشر ورور د روزګار په سلسله کښې د ملک نه بهر تلے وو، دولس کاله وشو چې د هغوئي هيڅ معلومات نشته. د هغوئي د درې بچو او د دې ماشومانو د مور خرچ خوراک زمونږه په ذِمَّه دے او غريبي مو هم ده، زه **عاشقانِ رسول** سره د دُعا په نِيَّت د مَدَني قافلے مسافر جوړ شوے يم. د **مَدَني قافِلے** د ختميدو نه تقريباً يوه هفته پس هٰغه اسلامي ورور په يوه **مَدَني مشوره** کښې شريک شو، د هغوئي جذبات د ليدو قابِل وو، په ژړا ژړا ئې وه وئيل: اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! **مَدَني قافِله کښې د سفر په بَرَکت کرم وشو، زمونږه د دولسو کالو نه ورک مشر وررو فون راغے او د هغوئي له طرفه مونږ ته يو لاک او پينځه وِيشت زره روپۍ هم راروانې دي.**

جو کہ مفقود ہو وہ بھی موجود ہو
ان شاءَاللّٰہ، چلیں قافلے میں چلو
دُور ہوں سارے غم ہو گا ربّ کا کرم
غم کے مارے سُنیں قافلے میں چلو

که وي شوے څوک جُدا، هم به شي راپيدا
اِنْ شَآءَاللّٰه راځئ قافِلو کښې لاړ شئ
لرې به شي هرغم، وبه شي د **رب** کرم
غم زيلو راځئ قافِلو کښې لاړ شئ

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دُعا نه قبليدو حِکمتونه.........

اَلْحَمْدُلِلّٰه! داسې ډير واقِعات دي چې په هغې کښې په مَدَني قافِلو کښې د سفر کوونکو په دُعاګانو د هغوئي ارمانونه پوره شوي دي، ډير به داسې وه وِينئ چې د هغوئي مُرادونه نه دي پوره شوي. که کله ستاسو د دُعا د قبليدو اثرات ښکاره نه شو نو بيا هم د **اللّٰه** پاک په رضا باندې راضي اوسئ ځکه چې کله کله داسې هم وي چې مونږه څه غواړو د هغې په نه راکولو کښې زمونږه خير وي ځنګه چې د اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه والِدِ کرامي حضرت علّامه مولانا نقی علی خان رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه په ''اَحْسَنُ الْوِعَاء'' کښې فرمائي: حِکمتِ اِلٰهي دے چې ته کله د نادانئ په وجه د هغه نه څه خيز غواړې او هغه په خپله مهربانئ ستا دُعا په دې وجه نه قبلوي چې [هغه خيز] ستا د پاره مُضِر (يعني نقصاني) دے. مَثَلًا ته سِيم و زَر (يعني دولت) غواړې او د هغې په درکولو کښې ستا د اِيمان خطره ده، يا ته تندرستي او عافِيَّت (يعني صِحَّت) غواړې او هغه په عِلمِ اِلٰهي کښې ستا د عاقبت (يعني د آخِرت) د نقصان سبب دے. داسې ردّ (يعني داسې دُعا نه قبليدل ستا د پاره) د قبليدو نه بهتر دي، ته په دې (آيتِ مُبارکه)

عَسٰۤى اَنۡ تُحِبُّوۡا شَيۡـًٔـا وَّهُوَ شَرٌّ لَّـكُمۡ ؕ
(پ۲ اَلْبَقَرَه ۲۱٦)

مفهوم ترجمۂ کنزُ الاِيمان: نزدې ده چې څه خبره ستاسو خوښه شي او هغه ستاسو په حق کښې بده وي.

باندې نظر ساته او په دې رد (يعني نه قبليدو) باندې د **اللّٰه** پاک شُکر ادا کوه. او کله د دُعا په بدله

کښي د آخِرت ثواب ورکول مقصد وي. ته حُطامِ دُنیا (یعني د دنیا ذلیله دولت) غواړې او پروردګار ستا د پاره نَفائِسِ آخِرت (یعني د آخِرت بهترین نعمتونه) ذخِیره کوي. دا د شُکر مقام دے د ګِیلې مقام نه دے. (فضائل دعا، ص۱۵۹)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net